درویش وردک

۲۳ اگست ۲۰۱۶

## د "افغانستان آزاد- آزاد افغانستان" د جوړېدو اتم تلین مبارکی

د "افغانستان آزاد- آزاد افغانستان" دپورتال گرانوچلونکو، دافغانستان ربړیدلی ولس اودخپلواکی اوعدالت دلاری ټولو مبارزینوته د"افغانستان آزاد-آزاد افغانستان" دجوړېدو اتم تلین مبارکی وایم.

په رېښتیاسره چی خپلواکی غوښتونکو په هیوادمینو لیکوالانوپه دی تیرو اته کلونو کی دگران افغانستان دسرلوړی، خپلواکی اوملی حاکمیت لپاره نه ستړی کیدونکی هلی ځلی کړی .دعدالت ، خپلواکی ، مساواتواوبرابری ناره پورته کول په داسی چاپریال کی چی له هری خوا د وطن دښمنان درته غاښونه چیچی؟ آسانه اوساده خبره نده ! له یوی خوا زمونږ دخلکو اقتصادی اوټولنیزی ارتیاوی اوله بلی خوا دزورواکومفسدینو ناخوالی ددوی دنړیوالو ملګروپه ملاتړ د هیواد دبچیانو ملا کړه کوی ! ولی متل لرو :په ویاله کی چی اوبه تیری شوی وی؟ بیابه هم تیریږی ! دلته که د یرغلګرو استعمارچیانو هڅوکی خاوری شوی وی نو دنورو به هم خاوری شی اودغه دامپراتوریو هدیره به په ځو نورو جسدونو هم ډکه شی ولی یوه خبره روښانه اوڅرګنده ده چی : (داو ولس ځوک غلامی ته نشی اړایستای) - زمونږ کښتی یی ډوبوله خپل دریاب یی طوفانی شو!

هوکی زمونږ په رادیکال اوفنټایزکولوسره ټوله اسلامی نړی لیونی شوه او اوس یی دپاریس اونیویارک لمنه هم ونیوله، ځکه دوی دیوه میړنی ملت سره چی دهیواد پالنی مینه یی دلینوتوب ترپولوی اوړی، سروجنګاوه اوله دی ناخبره و چی دزمریانو په ځاله ننوتل ورته څومره ګران لویږی.

**دکوه قاف دیوان به زوروی دامنم درســره    افغانه عشقه ترینه خپل جانان په زورراوړه**

په پای کی یوځل بیا دخپلواکی اوعدالت غوښتنی دپورتال اتم تلین ټولو هیوادوالو ته مبارکی وایم اوله خدای څخه دیوه سرلوړی خپلواک اوسوکاله افغانستان دعا کوم!

ژوندی دی وی افغانستان

تل دی وی خپلواکی

سره یودی وی ټول مبارزین

په هیوادنی مینه